مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زرغون شاه شینواری

۲۰۲۱/۰۳/۱۶

# په ارګ کې وروستۍ شپه او د چوکۍ سره مخه ښه

د طالبانو په تحریک کې د ملامحمد عمر اخوند څخه وروسته دوهم ځواکمن سړی چې د کابل په ارګ کې یې د طالبانو د حکومت مشري کوله ملا محمد رباني وه. د ستوني د ناروغۍ سره په جګړه اخته رباني به زيات وخت د پخوانيو مجاهدينو او مليشو د هغه شريک حکومت سره د جګړې په جبهه کې جنګيده چې ده ورته شر او فساد وايه، خو هغوی خپل ځانونه د افغانستان اسلامي جمهوريت باله. طالب رباني چې به د جګړې څخه لږ را وزګارشو، نو د کابل ارګ ته به يې سر ورښکاره کړ. په پېښور کې د افغان اطلاعاتي مرکز د ملګرو په مشوره مو وپتيله چې د (هرات د اسلام کلا څخه تر تورخمه) د افغانستان په حالاتو يو ښه راپور چمتو کړو. په دې راپور کې د طالبانو د مشر ملا محمد عمراخوند او د هغوی د حکومت د مشر ملا محمد رباني سره مرکې ځکه اړينې وي چې د څو ځانګړو سيمو څخه پرته پر نور هيواد د طالبانو حکومت چلېده.

د (۱۹۹۹) کال لومړنۍ اونۍ وه چې په کندهار کې د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور رياست ته ورغلم. هلته د طالبانو د خپل وخت د اطلاعاتو اوکلتور وزيراميرخان متقي، سيدمحمد حقاني اوعبدالحی مطمئين ناست وو. د دوی څخه مو غوښتنه وکړه چې د ملاعمر اخوند او ملا محمد رباني اخوند سره دوه بيلې بيلې مرکې وکړو. سيد محمد حقاني راته وويل سمه ده مشرملا صاحب ارزګان کې د جګړې جبهې ته تللی، ځکه چې د جګړې جبهې ته د هغه تللو وار وه، کله چې په خير راستون شو نو الله به خير کړي ور سره به وګورئ. ملا معاون صاحب ناروغه وه نن د دوبۍ څخه راغلی ستاسو دا غوښتنه ورسره شريکوو او مونږ به بيا تاسې ته احوال درکړو. د ماښام د لمانځه څخه لږ وروسته يې راته و ويل چې ملا محمد رباني د کندهار په پوځي چونۍ کې دی. مصلحت مو ور سره وکړ او راته يې و يل راځئ چې ورشو ته به ورسره مرکه وکړې او مونږ به يې د ناروغۍ د پوښتنې له ثواب څخه برخمن شوو. څلور واړه په يوه غبرګه ډاټسنه کې د کندهار عسکري لښکرکوټ ته ور روان شوو. خپله هم راسره ډيرې پوښتنې وې او نورو ملګرو مو هم ډول ډول سوالونه درلودل. د روغبړ وخت کې ورته ځير شوم. هغه په رښتيا د ستونی د درد سره غيږ ايستلې. د حال احوال خبرې لا نه وې ختمې شوې چې دوه کاسو ښوروا کې ماته شوې ساده ډوډۍ په دسترخوان کېښودل شوه. مونږ شپږ کسان ور څخه را چاپير شوو. څلور مونږ يو ملا محمد رباني او يو د هغه د دروازې پيره دار. د ډوډې څخه څو دقيقې تيرې شوې وې چې ملا محمد رباني، اميرخان متقي ته ور وکاته او ور ته يې و ويل متقي صاحب مونږ به مرکه وکړو او تاسو خپل کارونه. خو ملګرو ته د لږ ميوې او انارو د راوړلو وواياست.

سره له دې چې په دې مرکه کې د افغانستان د جغرافيوي ستونزو څخه نيولې بيا د حکومت د بهرني سياست، لويې جرګې او نورو اړوندو مسئلو پورې هر سوال ته نوموړی ځواب و وايه، خو دلته يې د کابل د نيولو يوه لنډه برخه ځکه را اخلو چې دې اوسني وخت او حالت سره يو څه ورته والی لري.

د مرکې په يوه برخه کې ملا محمد رباني داسې و ويل: جلال اباد کې مو د ژوبلو طالبانو حال احوال اخسته چې د کابل د مخابرې د مرکز څخه د کابل د جبهې د قومندان دا پيغام راغی: «حکومتي قواوې د جګړې د ليکو څخه په شا تګ کوي، ډيرمجاهدين او عسکر طالبانو سره يوځاي کيږي، حکومت د زوال په حال کې دی، د کابل په ختيځه جبهه کې د کوه صافي له لورې ښار ته د طالبانو د ننوتلو مسئله جدي و انګيرئ څه وکړو»؟

ملا محمد رباني: «ښار ته د ننوتلو اجازه اوس نشته، خو که چيري د ښار څخه ځوک وځي، نو غرض پرې مه لرئ، د قتل و قتال مخ ونيسئ او حکومتي مشرانو ته و واياست:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د تلي یا میزان پنځم مازیګر
د کابل څخه ګرد چاپیره شوو راګرځیدلو طالبانو ته پته وه چې حکومت د مقابلې زور نه لري او ضرور به سلامي کېږي، خو د مجاهدینو د ډلو د ۱۹۹۲ کال وسله والو ګډوډیو ته په پام طالبا ن له دې څخه اندېښمن وو چې ځنې ملیشه یي کړۍ به بیا هم د چورتالان په منظور د خرپ او ترپ جنګ ته لاس واچوي. له همدې امله مو طالب قوماندانانو ته و ویل: د ښار څخه چې هرڅوک وځي غرض پرې مه کوئ او د حکومت مشرانو ته و وایاست چې: «دا مو په ارګ کې وروستۍ شپې دي».
همدا اوس مونږ چیرته یوو؟
دا به بې انصافي وي چې ځنې برخو کې ننی کابل د ۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کابل سره پرتله کړو، خو دا به هم ناخبري یا سطحي وي چې د ۲۰۲۱ کال د کابل دا ورځې شپې د ۱۹۹۲ کال د هم هغو شپو ورځو سره بې توله پاتې شي. کله چې د نجیب حکومت سقوط پر لور روان وه.
۱۹۹۱ او ۱۹۹۲ کلونو کې د نجیب حکومت د همدغه شان بهرنۍ انزوا حکومتي ګډوډۍ او د مجا هدینو د نظامي کلابندۍ سره لاس او ګریوان وه، د کومې سره چې د کابل اوسنی حکومت غیږ په غیږ دی. د نجیب نظر او عمل خپل دی مګر د دې تر څنګ هغه د ایدیالوژۍ تشکېلاتو او لوڅو پوڅو په غیږه کې روزل شوی سړی وه. ده خپله سیاسي پوهه، تجربه او تحلیل درلود، ه هغه ته دا خبره معلومه وه چې د عمومي حالاتو بهیر کوم خوا ته روان دی. نو په دوو ډیرو مهمو علتونو یې د بینین سیون پلان ته غاړه کېښوده.
لومړی نجیب پوهیده چې دې حالاتو کې د دې څخه پرته بل نسبي بهتر اوعملي پلان نشته
دوهم: نجیب ته د خپل توان او توپان دواړو زور معلوم وه هر علت چې وه خو نوموړی دننه په دولت، ګوند او نظامي برخو کې د هغو واکونو نه بې برخې شوی وه کوم چې په دې ډول حالاتو کې د اچول شوي افغانستان جمهور رئیس او ګوندي مشر ته لومړني حیاتي ضرورتونه وو. د نجیب خطا دا وه چې کودتا پرې مخکې شوي وه او دی پرې وروسته پوه شو.
اوسنی کابل او ننی ارګ له همدې اړخه د پرونی کابل او پرونی ارګ سره زیات ورته والی لري. د نجیب د سقوط د اعلان څخه وړاندې یوې کړۍ لومړی د جګړې دیپلوماسۍ او سیاست رسۍ په لاسو کې ونیوې بیا یې نجیب ته سیاسي وژنه ور کړه. خدای پاک شاهد حال دی چې د کابل د ارګ دا روانه ننۍ ډرامه را ته هره شیبه د نجیب، نبي عظیمي، دوستم، وکیل، مومین او قوماندان احمد شاه مسعود تیره لوبه را یادوي.

## د ټیکه دارانو جګړه او زمونږ بدنصیبه ملت

باور لرو چې ډیرو افغانانو او ژورنالیستانو ته به پته وي چې کابل کې د اقتدار ممثلان په اسلام اباد، ډهلي، تهران، دوشنبه باکو، دوبۍ او تاشکند کې د هغو سترو نړیوالو شرکتونو داخلي قراردادیان دي چې زمونږ د پراخې سیمې د قدرتي شتمنیو او د اسیا د ستر مصرفي مارکېټ تر ولکې راوستلو جګړه یې د بېوزله او مسکېن افغانستان شا ته تړلې ده. په دې جګړه کې د هغو دولتونو پخلاینه زمونږ سوله او د هغو د ګټو ټکر زمونږ جګړه ده. دا ملتونه که واړه دي یا غټ خو د ولس د نسبي ملاتړ څخه برخمن او یو څه خپلواک دولتونه لري، هغوی خپل جنګ زمونږ خاوره کې کوي او مونږ چې د دې ملي سیاسي قوت څخه بې برخې شوي یو، نو په خپله خاوره کې د هغوی د جګړې لپاره د هغو څخه وسلې او پیسې غواړو. بدمرغي دا ده چې دا د نیمې پیړۍ څخه را په دې خوا چې حکومتونه را ته پردي جوړوي او نومونه مونږ پرې ږدو ورځ په ورځ زمونږ په سیاسي کلتور بدلیږي. زمونږ ځنې لوستي کسان د نیمګړې سیاسي تحلیل په وجه خپل وخت یا انرژي چې باید په ملت جوړونه یې مصرف کړي په داسې دولت جوړونه یې لګوي د کوم چې مونږ سره اختیار نشته. په افغانستان کې د دولت او د هغه د مشر جوړیدل زمونږ د ملې او بشري غوښتنو پر انډول زمونږ د جغرافیوي وجود یا جیوستراتیژیک موقعیت سره ډیر تړل شوې. متاسفانه د عبدالرحمان خان د سلطنت یا پردیو لوبو ته د لنډې بوچې افغانستان د جوړیدو څخه وروسته د بیواکه دولت او بې برخې ملت تر منځ تضاد د افغانستان د ملي خپلواکې غوښتونکو مبارزو بنسټیزو اصلونو ته تاوان رسولی دی. د همدې زیان قیمت مو یو ځل د عبدالرحمان سلطنت ته ورکړ. بل ځل مو د شوروي اتحاد یرغل کې پرې کړ او د دې بلې لښکرکشۍ بیه را رروانه ده. د خلق - پرچم او د جهادي ډلو د ګوتو په شمار خاصو کسانو او هغو اجاره شوو څیرو څخه پرته چې خپل کور کې له پردۍ ملکۍ نه خوند اخلي د هیڅ یوه افغان په دې وطن نه پرونۍ خونریزي لوریده او نه دا ننۍ سرکوزي. په افغانستان کې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د ۱۹۷۹ د ډسمبرڅخه پیل شوې جګړه د ۲۰۰۱ کال اکتوبرکې د ښکیلو اجنبي لورو نسبي پخلاینې ته داخله شوه. دا پخلاینه د دې پر ځای چې عیني او منطقي وي جبري وه. په افغاني خاوره حمله وشوه، د طالبانو رژیم ړنګ شو او د برید څخه وروسته افغانستان کې د ښکیلو بهرنیو دولتونو د ګټو انډول ساتلو ته لومړی نقشه برابره شوه او وروسته د هغې د عملي کولو لپاره حکومت جوړ شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بن کې د ۲۰۰۱ کال جوړشوی حکومت او مشران د همدغه منطقوي او جهاني انډول پر اساس منځ ته راغلل. دغې حلقې له پیل څخه د موازني مسئلې ته دومره پام نه کاوه، مګر دې وروستیو کلونو کې په کابل کې جوړ شوی حکومت د موازني پر ځای کابل د یوه جهاني قدرت لپاره د جهاني مقابلې په مورچې بدلاوه. داسې مقابله چې هغه ورته تیار نه و او نورو منله نه. هر څه چې دي مونږ یې په عواملو نه پوهیږو، خو ناټو نه غوښتل چې افغانستان کې د ځواک او واک ښتن دولت جوړ شي او که زړه یې وای، نو د ظاهرشاه په ځای یې د ټولنې د ټولو څخه کمزوري نوم پکې په تخت نه کېښناوه. داسې نوم ورکې چې ناټو یې د کاذبو شخصیتونو په تبلیغ د مبالغې ټولې پولې ونړوي. د عیني ارزونې له مخې په کابل کې جوړشوی حکومت د منطقوي پرمختګ، د اقتصادي کاروان او هغه سیاسي انډول څخه ډېر وروسته پاتې دی کوم چې د افغانستان د جیوپولټیک، جیواکونومیک او جیوستراتیژیک موقعیت زماني غوښتنه ده. په ننی اسیا کې پیل شوي اقتصادي جګړه د هغې جګړې څخه ډېره لویه پراخه او ټاکونکې ده د کومې لپاره چې کابل د نړۍ څخه ټوپک او کارتوس غواړي. دا جنګ د سوداګریزو لارو، زیرمو، سولې او په ټولیزه توګه ارزانه واخله او قیمته یې وپلوره، جنګ دی. د موقعیت او وخت د اړتیا پر بنسټ افغانستان کې نسبي سوله او فعال ذمه وار دولت، هغه دولت چې د تضادونو انډول وسائل شي، د افغانستان د جګړې د منطقوي او جهاني شریکانو همهغه شان غوښتنه جوړه شوې لکه ۲۰۰۱ کال کې چې دا اوسنی جوړښت ورته ضرورت ښکاریده څنګه به یې جوړوي؟ په چابه یې جوړوي؟ او له چا به یې جوړوي؟

## په ترکیه کې نوي غونډه او د نوي مؤقت حکومت جوړښت

په ترکیه کې جوړیدونکی کنفرانس د افغانستان په سیاسي جبهه کې هغه مهم بدلون دی چې افغان حکومت او زیاتو افغانانو یې تصور نه کاوه. په دې کنفرانس کې د افغانستان لپاره د هغه نوي حکومت په جوړولو پریکنده خبرې کېږي چې د ۲۰۰۱ کال د بن د کنفرانس په ادامه په کابل کې د جوړشوی اوسنی حکومت ځای به نیسي. د دې غونډې بله ځانګړتیا دا ده چې د ملګرو ملتو او د هغو سیمه ییزو دولتونو په شتون کې رابلل کېږي چې افغان کشاله کې اغیز لري.
کنفرانس طالبانو سره د امریکا د ۲۰۲۰ کال د قطر په موافقه د جوبایدن د حکومت د سره بیا کتنې او طالبانو او کابل حکومت ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر انتوني بلینکن د تازه لیک څخه وروسته په بیړنی ډول رابلل شوی. حکومتي اړخ ویلي چې غونډه کې ګډون کوي او طالبانو هم دا موضوع تر غور لاندې نیولې ده. سره له دې چې د کنفرانس د اجنداء په اړوند حکومتي لوري وایي چې لا تر اوسه اجنداء نه ده معلومه مګر د بلینکن په خط کې نه یوازې اجنداء په ګوتو شوې، بلکې ځای، نیټه حتا امکان لري برخه وال یې هم معلوم کړي وي. دا جلا موضوع ده چې کنفرانس ښه دی یا ښه نه دی! که د بن د ۲۰۰۱ کنفرانس چې په افغانستان د ناټو د یرغل څخه وروسته د یرغل سره د مل او تپلې حکومت او جنګ د ادامې په خاطر د چا له نظره ښه وه نو د انقرې کنفرانس خو به د هغه پر انډول څکه بهتر او تاریخي وي چې دا د افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو، د هیواد د استقلال د تثبیت او سولې د تامین په موخه جوړیږي. پاتې دی نه وي چې د انقرې د ناستې ښه والی د غونډې په استقلالیت، ګډونوالو، پریکړو او د هغه حکومت په جوړولو پورې تړلې چې افغانستان کې د سولې د منځ ته راتګ دروند کار ورسپارل کېږي. په عمومي او لوړه کچه د سولې د هر ډول خبرو د پیل او ښه پای لپاره یو بنسټ اړین وي، نو لکه څرنګه چې د دوحې موافقه کې ویل شوي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د لیک څخه معلومیږي، د مسکو او انقرې د غونډو کوربانه چې وایي دواړه ناستې د دوحې د موافقې د تقویې لپاره جوړیږي او د طالبانو سره خبرو کې حکومتي پلاوي هم منلې چې همدا موافقه به بنسټ وي، نو د ترکیې ناسته به د قطر د موافقې په سیوري کې د نوي یا مؤقت حکومت جوړښت ته پام او اقدام کوي. د خلکو سره دا پوښتنه را پورته شوې چې امریکا، ناټو او ګاونډي دولتونه ولې د ۲۰ کاله مداخلې، جګړې او تاوانونو د پاسه به جوړه کړي اداره رخصتوي او پر ځای یې بله منځ ته راوړي؟
داسې ښکاري چې د جوبایډن حکومت د امریکا په پوځي او د افغانستان په سیاسي تاریخ کې د هغې سترې بدنامي ټیکې دوسیه تړي چې (۲۰) کاله ورته د افغانستان (۳۰) ملیونه خلک یرغمل وساتل شول.
د افغانستان جنګ د امریکا په پوځي تاریخ کې تر ټولو اوږود، ناکاره او رټلی جنګ او د دې جګړې په وسیله افغانستان کې جوړ شوی حکومت د افغاني تاریخ تر ټولو زیات غل، فاسد او معامله ګر حکومت وه چې د افغانستان د پولو د رنګولو په څیر یې هغه سیاسي، کلتوري، اخلاقي او اجتماعي سرحدونه هم وران کړل چې ملت ته یې د ملي هویت او دولت ته یې د اجتماعي جوړښت او مسئولیت اصلونه او چوکاټونه جوړول. په دې پړاو کې مظلوم افغانان که هغوی په هر قوم یا سیمې پورې تړلي وو د جګړه مارانو او حاکمي مافیا له لوري د مجبوریت په مارکېټ او خپله جګړه مار سره د مافیایي کړۍ د حکومت د فساد په منډهي کې د مریيانو په ډول پلورل او اخستل د ټولنې سیاسي کلتور جوړ شو. دغې خبیثې د سیسي د هغه تاریخي وطن تاریخ او تنې ته نه جبران کېدونکی زیان و رساوه چې د غزنویانو، ابدالیانو او هوتکیانو د امپراطورۍ هیواد بلل کېده. کوم معنوي باورونه چې زمونږ ملت ته د دولت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په سته کې سیاسي ملي میراث پاتي وو په پوره بیباکی له منځه یووړل شول او ځای یې د حکومت په زور سوداګریو، ټیکه داریو او معامله ګریو ونیوه. ناټو د خپلو وسلو او پیسو په زور یوه معجوني ترکیبي ډله د حکومت په جامه کې په خپله غېږ کې وساتله او افغان ولس یې د هغې ترکیبي دلې د سیاسي، پوځي او اقتصادي ښکار ورشو جوړه کړه. اوس معلومیږي چې همدا ټاکونکی بهرنی اړخ د تاریخ دا زړه په وینو ککړه پاڼه اړوي او په عوض یې بل فصل پیلیږي. دا فصل به د دې حکومت په ځای د مؤقت حکومت جوړښت وي. دا چې افغانان څه ډول مؤقت حکومت غواړي، هغه یوه ملي غوښتنه ده او ملي قوت ته اړتیا لري، مګر دمګړی د میز په سر پوښتنه دا ده چې مونږ ته دا مؤقت حکومت څوک جوړوي؟ له چا یې جوړوي؟ او څنګه یې جوړوي؟

۱: بهرني ښکیل دولتونه

۲: طالبان

۳: د بن د کنفرانس شریکوال

لومړی: بهرنی اړخ

اوس امریکا د مرکزي لوبغاړي په توګه لوبه بس کوي، خو کابلي شریکان یې ورته وایي بس نه ده او جاري یې و ساته. امریکا اړ شوه هماغه ټول پروني حشرګړي راغونډ کړي او د لوبې د ختمیدو یا د نوې لوبې د پیل او د نوو لوبغاړو د پیدا کېدو لټه وکړي. د طالبانو سره مخامخ خبرې، د خبرو څخه د کابل د حکومت بې برخې کول او د قطر د موافقې لاسلیک د لوبې د ختمیدو یا بدلیدو ترتیبات وو او د مؤقت حکومت جوړیدل د پای اعلان ته ګامونه ور اخستل دي. په دې بهیر کې د امریکا په شمول د هغو ټولو بهرنیو شریکانو ګټو ته پام شوی چې د بن په کېسه کې د امریکا سره روان وو. اروپایي یاران به ځکه پرینبودل شوي وي چې راتلونکې مسئله د اسیا زیرمې او سوداګرۍ ده او دا بیا د ګټود تضاد سره اړه لري.

دوهم: طالبان

د اټکل تر بریده د طالبانو او امریکا نوې نژدې دریځونه د لوبې لپاره مهم دي. طالبانو هیڅکله د مؤقت حکومت پلویتوب نه دی کړی، خو که زور پرې راشي د قطر د موافقې د عملي کولو لپاره به د داسې مؤقت حکومت سره مخالفت را کم کړي چې خپله پکې نه وي خو هغه د مستقلو اسلامي ملي او مسلکي افغانانو څخه جوړشوی وي. امکان لري طالبان به د همدې حکومت سره د خبرو، اور کم، اوربند او د راتلونکي نظام په اړوند نتیجې ته و رسیږي. البته افغاني روانه لوبه کې غوڅه او وروستی خبره ګرانه ده.

دریم: د بن برخه وال او حکومت

د مؤقت حکومت جوړیدل د بن ناراضه شریکوالو ته د بې هوشی او حاکمو کړیو ته د خودکشی نه کم نه دي. له همدې امله د دوی مخالفت او مؤقت حکومت کې قدرت به نادرۍ را پورته کړي. دا په دې پورې اړه لري چې امریکا په کومه کچه د دې نوي پلان تر شا ودریږي. آیا فقط د کشالې څخه پښې وباسي او که د افغانستان په سوله کې هم برخه اخلي. په لومړي صورت کې به خپلو مضبوط پیوند لرونکو ته د مخالفت او دوهم کې د منلو یا مؤافقې سپارښتنه وکړي. د افغانستان موقعیت ته په پام حاکمه ډله دا هم کولی شي چې د ځان د سیاسي ژوند په خاطر تر پایه مخالفت وکړي، ځکه په دوی کې د امریکا څخه سربیره د نورو پیوندونو څښتنان هم شته، مګر دا کار به ستراتیژیک اړخ و نه لري ځکه هیڅ یو دولت به په اسانه دې ته چمتو نه شي چې په دومره حساس وخت کې د امریکا او طالبانو سره په هغه مخالفه جبهه کې ځان واچوي چې د ملګرو ملتو پېښې هم پکې ښکیلې وي.

همداسې یو کیسه ۱۹۷۳ کال کې ویتنام کې هم راغله. امریکا په سیګون کې د خپل پلوي رژیم د مخالفت سره سره لومړی د هوچي من سره خبرې پیل کړې. په سیګون کې د وانتیو حکومت د خبرو څخه د باندې وساتل شو. د ویتنام د سولې خبرو پنځه کاله دوام و کړ. پنځه کاله سر په سر د وانتیو رژیم د سولې د خبرو مخالفت هم کاوه او د امریکا څخه یې وسلې او پیسې هم ترلاسه کولې، خو کله چې د فرانسې پلازمینه پاریس کې د پاریس تاریخي تړون لاسلیک شو نو په سیګون کې د وانتیو حکومت په حقیقت کې د وانتیو په اصطلاح د وطني ضد او د هوچي من په ژبه د ویتنام د ازادی بښونکي جبهې د قوماندان جنرال جیاب د چریکانو مرحمت ته وسپارل شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ